مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

علم گل سحر ۲۰۲۱/۰۲/۰۸

# تعجب

زموږه زړونه له کینو نه ډک دي

موږه د شک په سترګه ګورو سره

موږ مینه نه پیژنو

موږ له ښکلا ځخه منکر خلک یو

زموږه نیت خراب دی

زموږ خندا نه ده زده

موږ د یو بل د ژړولو په چل ښه پوهیږو

ښایي د بلي زماني خلک یو

موږ د یتیم پر سر لاس نه شو نیوی

خو زه حیران یم په دي

چي دلته اوس هم لا ګلان توکیږي!!!

علم ګل سحر



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنيزي بڼي پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکي په ځیر و لولئ